SHARIAT WEEKLY

شريعت

اوونيزه

په اوونۍ کې دوه ځله خپريږي

دافغانستان دطالبانو داسلامي تحريک مرکزي نشراتي ارگان

دريم کال شپږويشتمه گڼه پرله پسي (۱۲٦) چهارشنبه د ۱۴۱۹ هق کال د محرم الحرام (۱۰) ۱۳۷۷ هـ ش کال د غويي د مياشتي (۱٦) د ۱۹۹۸ ميلادي کال مي (٦)

الهي فرمان

عدل (انصاف) وکړئ تاسي ! ، همدا (عدل) ډيــر نــږدي دی تقوا(پرهيزگــاری) ته .

(سورة المائدة)

د سيمي د خلکو د چور او تالان په سر :

د بگرام په ولسوالي کې د اسلامي امارت د مخالفو قوماندانانو تر منځ سختې نښتې رواني دي

د پروان ولايت د بگرام ولســوالي د جمشيد خيلو په کلي کي تيره شپه سختي نښتي رواني وي د افغانستــان د اسلامي امارت د مخالفينو د دوو تنو سيمه ييزو قوماندانانو تر منځ سختي جگړي نښتي دي .

د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راکړ، دغو سختو نښتو په بهير کي د سر په هغو درندوزيانونو او زياتو مالي تاوانونو برسيره چي د سيمي خلکو او دواړو ښکيلو اړخــونو ته رسيدلي دي د قوماندان جميل دوه تنه وسله وال افراد وژل شويدي دغه نښتي د هغو خلکو په مالونو او ځمکو باندي دخپــــي د اچولو له امله شويدي چي پخوا د دوي د ظلمونو په نتيجه کي له سيمي نه مهاجر شويدي.

ښکيل اړخونه هلي ځلي کوي چي د وسلو په زور د مهاجرينو او د بي ځايه شويو کســــــــــــورنيو په منقولو او غير منقولو مالونو او شتمنيو باندي خپـــــــــــه واچوي او هر يو لوري د سيـــمي د خلکو په ځمکو باندي د مالکيت ادعا کوي.

د افغانستان د اسلامي امارت له اهدافو او ارزښتــونو سره د ملاتړ په خاطر د لغمان ولايت د عليشنگ په ولسوالي کي درنه غونډه جوړه شوه

د لغمان ولايت د عليشنگ ولسوالي عالمانو مشرانو او سپين ږيرو د دوشنبي په ورځ د محرم په اتمه د يوې پراخي غونډي په جوړولو سره د افغانستــان د اسلامي امارت له هدفونو او ارزښتونو سره خپل ملاتړ او پيوستون څرگند کړ .

د باختــر اطلاعــاتي آژانس خبــر راکــړ په هغي غونډه کي چي د افغانستان د اسلامي امارت د هدفونو د دفاع له امله په دغي ... غلورم مخ

د سرپرستي شوري مرستيال د لوړ وزده کړو له سرپرست وزير سره چي په همدي ورځو کي سعودي عربستان ته له يو سفر نه راستون شويدي وکتل

د سرپرستي شورا مرستيال محترم مولوي عبدالکبير د خپل کار په دفــتــر کي د لوړو زدکــړو له سرپرست سره وکتل .

د سرپرستي شورا مطبوعــاتي دفتر د باختر اطلاعاتي آژانس ته خبر ورکړ . ددغو کتنو په بهير کي لوړي د لوړو زده کــړو وزارت د ســرپرست محــترم مولوي حمد الله غلورم مخ

د لوی صوفي او عارف عبدالرحمن بابا په دي نيمر بيت (له اغيار سره خندا څه په کار نده)

د شريعت غږ راديو د هنر او ادب د اداري په اهتمام په کانټيننټل هوټل کي شانداره طرحي مشاعره جوړه شوه

د روان کال د محرم الحرام په اتمه چي د ثور د مياشتي له څوارلسمي د دوشنبي له ورځي سره سمون خوري له غرمي مخکي د شريعت غږ راديو د هنر او ادب د اداري لخوا د پياوړي او نامتو صوفي شاعر عبدالرحمن بابا ددغي طرحي (له اغيار سره خندا څه پکار نده) تر سرليک لاندي د کابل د انټرکانټيننټل هوټل په تالار کي د مـــشــاعــري يوه پرتمينه او درنه غونډه جوړه شوه .

د شريعت اوونيزي خبريال خبر را کړ چي په دي غونډه کي چي د سهــار په ۹ بجو پيل او له غرمي وروسته د ماسپښين تر دري نيــمـو بجــو پوري روانه وه د افغانستان د اسلامي امارت د اطلاعاتو او کلتور وزارت سرپرست محترم ملا امير خان «متقي» ، د ستري محکمي مرستيــال محترم مولوي جليل الله «مولوي زاده» د بهرنيو چارو وزارت معين محترم مولوي سيد محمد «حقاني» د اطلاعاتو او کلتور وزارت نشراتي معين محترم مولوي رحم الله «زرمتي» او ددغه وزارت فرهنگي معين محترم الحاج مولوي عبدالرحمن احمد هوتک، د اســلامي امــارت يو شمــيــر لوړ رتبه شخصيتونو د هيواد يو شميــر ليکوالانو پوهانو اديبانو ، شاعرانو او د شعر او شاعري يو شمير مينه والو گډون کړي وو .

خبر وايي چي دغه پرتمينه غونډه لومړي د عظيم الشان قرآن د څو مبارکو آيتونو په تلاوت سره پيل او وروسته د راديو تلويزيون د عمومي رئيس محترم پوهاند مولوي محمد اسحق «نظامي» په عالمانه وينا سره رسماً پرانستل شوه خبر ځاي وايي د دغي پرتميني مشاعري لمړي برخه چه د غرمي تر دولسو نيمو بجو پوري روانه وه د هيواد يو شمير پياوړو او تکړه شاعرانو د رحمن بابا ددي نيم بيتي (له اغيار سره خندا څه پکار نده) تر سرليک لاندي د هيــواد اوسني سيــاسي نظامي اوضاع، د دوستانو شفقت او د دښمن مکرو جفا او خپله د اسلامي شريعت پر بنسټ ددغي پرتميني غونډي په ترڅ کي د ډيرو پاکو احساساتو سره حاضرينو ته د شعر په ژبه وړاندي کــړه چه په هره برخــه کي د حاضرينو له ډيرو ښو او خاصوولولو سره بدرگه کيده .

خبر ځاي زياتوي چي د غونډي دوهمه برخه د غرمي له ميلمستيا او د ماسپښين د لمانځه له اداکولو وروسته د ماسپښين په دوو بجو پيل او تر دري نيمو بجو پوري بيا هم په پوره کيف او اوچت شان او شوکت سره د پياوړي شاعر محترم نصر الله «حافظ» په اناونسري روانه وه چه په پاي کي د شريعت غږ راډيو لخوا د مشــاعــري غلورم مخ

محترمه دوکتورس راضيه کوهستاني موظف در شفاخانه صحت طفل در مصاحبه با هفته نامه شريعت

هم اکنــون در سرويس اطفال شفاخانهء صحت طفل ۲۰ داکتر و ٤۰ نرس از طبقهء اناث شب و روز در خدمت مريضان قرار دارند

بايد براي محصلين طبقه اناث سال اخير پوهنحي طب زمينه دوره ستاژ در شفاخانه هاي مختلف اناثيه فراهم گردد

شفاخانه، صحت طفل اندرا گاندي يکي از شفاخانه هاي مشهور و سابقه دار اطفال در کشور ميباشد.اين شفاخانه در بيست سرطان سال ۱۳٤٥ در نتيجه تلاش و کمك مادي دوکتور داکر حسين خان هندي تاسيس و اساس گذاشته شده است .

اين شفاخانه تا کنون تعداد بيشماري دوکتوران و متخصصين ورزيده را تربيه نموده و دوکتوران اين شفاخانه بعد از سپري نمودن سه دوره امتحان سند تخصصي يا D.C.H را بدست مياورند که بعداً اين متخصصين ساير دوکتوران تازه فارغ را تحت تربيه و آموزش قرار مي دهند .

شفاخانه صحت طفل اندراگاندي داراي بخش هاي داخله ، جراحي عمومي، اورتوپيدي، گوش و گلو، جلدي، دندان، جراحي عصبي و سرويس نوزاد ميباشد. همچنان شعبه لابراتوار، واکسين ، اکسريز و ص٤،

عراق از عواقب نــا مشخص تمديد تعزيرات هشدار داد

حکومت عراق از عواقب نا مشخص تمديد تعزيرات از جانب ملل متحد عليه اين کشور هشدار داد

طبق خبر منابع خبري جهان : ملل متحد براي شش ماه ديگر نيز تحريمهاي وضع کرده بالاي عراق را تمديد نموده است در خبر گفته شده است که حکومت عراق به اين ارتباط يك مکتوب سرگشاده را عنواني شوراي امنيت ملل متحد فرستاده است .

په کندز کي د اسلامي اردو په دفاعي کرښو باندي د مخالفينو بريد په شاه وتمبول شو

د افغــانســتــان د اســلامي امــارت مخالفينو تير ماښام د کندز په استقامت د اسلامي امارت د مجاهدينو په دفاعي کرښو باندي تعرض وکړ چي لله الحمد له ماتي سره مخامخ شو .

له کندز نه د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راکړ د مخالفينو تعرض په هماغو لومړيو ساعتونو کي د جبهي په لومړيو کرښو کي د اسلامي اردو د ميــشــتــو مجاهدينو او جزوتامونو له سخت مقاومت سره مخامخ شو او د دښمن يرغل د سرله د راندو زيانونو او مالي تاوانونو وروسته له ماتي سره مخامخ شو. د مخالفينو د ناکام تعرض په بهير کي د دښمن يو شميــر درندي وسلي او سنگرونه ويجاړ او د هغوي يوه اندازه مهمــات د اسلامي اردو د مجاهدينو لخوا ولجه شويدي. -

دکندز ولايت دچار دري د ولسوالي عالمانو او سپين ږيرو له اسلامي امارت سره په خپل بشپړ ملاتړ ټينگار وکړ

د کـنـدز ولايـت د چـار دري د ولسوالي عالمانو روحانيونو او محورو د کــار او ټولنيزو چارو له عمـومي رئيس سره د کتني په ترڅ کي يو ځل بيا د افغانستان د اسلامي امارت له لوړو هدفونو سره په خپل بشپړ ملاتړ او همکاري باندي ټينگار وکړ .

د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راکــړ په دي کــتنه کي د کــلام الله مجيد د څو ايتونو له لوستل کيدو وروسته محترم مولانا غلام رسول د چار دري ولســوالي د ديندارو خلکو په نمايندگي خبري وکړي او يو ځل بيــا بي ژمنه وکــړه چي د اســلامي نظام دواکمني د ټينگښت او د هيواد له شمــال نه د مفسـدو او خاينو عناصرو د بيخي له منځه غلورم مخ

يکتن کيسه بر در شهر کابل دستگير گرديد

يکتن کيسه بر به تاريخ ۷ محرم در ناحيه اول شهر کابل باالفعل توسط موظفين امنيتي حوزه اول شهر کابل دستگير و به پنجه قانون تسليم داده شد.

آژانس اطلاعاتي باختر گزارش ميدهد اسامي عزيزاغا فرزند سيد احمد مسکونه ولايت ميدان وردك که ميخواست يکمقدار پول نقد را از جيب يك هموطن ما سرقت نمايد باالفعل توسط موظفين امنيتي دستگير گرديده و قضيه متهم غرض طي مراحل قانوني به قوماندانی امنيه ولايت تسليم داده شد.

سرمقاله

دلوي خداي (ج) په نامه

ثمرات ارزنده تطبيق قصاص و حدود در کشور اسلامي ما

قصاص بدل گرفتن جان و يا عضو تلف کرده و يا متضرر کرده انسانها است که به نص قطعي کتاب الله ثابت است و حدود- جمع حد بمعناي منع- سزا هايي را گفته ميشود که در شريعت اسلام به نصوص و اجتهاد ثابت شده، مانع انسانها از ارتکاب جرايم و فساد ها است؛

شريعت پاك اسلام در جامعه انساني قيام امنيت و ثبات را بدرجه نهايي ترجيح و اهميت قايل است از اين رو بالاي مسلمانان هم انتخاب امير و امام عامه لازم گردانيده و هم تطبيق قصاص و حدود را ؛ چونکه امام و امير مؤمنان در اقامه حدود و قصاص نائب امت اسلامي ميباشد وقتيکه او قصاص و حدود را تطبيق و عملي مي سازد واجب مذکور از ذمه همه مسلمانها به اجراي امام کفايتاً و نيابتاً ساقط ميشود. و اگر مسلمين چنين امام و امير را مقرر نکرده بودند که کفايت اجراي حدود و قصاص و ديگر واجبات را داشته باشد هر فرد مکلف از مسلمانان به ترك اين واجبات گنهکار و مأخوذ است، و اگر چنين امام و اميري داشتند ولي در اقامه امن، اقامه نماز جمعه وعيد، امر بمعروف و نهي از منکر، اجراي قصاص ، حدود، سد ثغور (نگهداري سرحدات مملکت) ، اقامه جها و غيره واجبات شرعي. مسلمانان با امير شان کمك و مساعدت نميکردند باز هم همه مسلمانان گنهکار و آثمين اند، و اگر اميري داشتند ، کمك و پشتوانه او را ميکردند ولي امير کفايت و قوت ارادي اجراي واجبات فوق را نداشت درين صورت عزل امير ضعيف و انتخاب امير ديگر که کفايت اداي واجبات را داشته دوهم مخ

هفده تن محبوسين از محبس ولايت کابل رها گرديدند

هفده تن از محبوسين از محبس ولايت کابل به تاريخ ۷ محرم بعد از ارزيابي دوسيه هاي نستبي شان از حبس رها گرديدند.

آژانس اطلاعاتي باختر خبر ميدهد هيأت با صلاحيت محکمه نظامي که قبلاً به اساس هدايت عاليقدر امير المؤمنين تحت رياست محترم مولوي سيد عبدالرحمن اغا کفيل و قاضي منتخب محکمه نظامي حلورم مخ

شاروالي ولايت لوگر ٤٥۰۰ اصله نهال مثمر و غير مثــمر را در کــنار جاده غرس نموده است

شاروالي ولايت لوگر از اول سال جاري تا اکنون به تعداد ٤٥۰۰ اصله نهال مثمر و غير مثمر را در کنار جاده غرس نموده است .

آژانس اطلاعاتي باختر گزارش ميدهد شاروالي ولايت لوگر علاوه بر اعمار و ص٤،

د کابل له مربوطاتو نه يوه اندازه وسلي او مهمات تر لاسه شول

د کــابل ښــار لــه مــربوطاتو نـه د دوشنبي په ورځ د محرم الحرام په اتمه يوه اندازه وسلي او مهمات تر لاسه او اړوندي ځانگي ته وروســــــپارل شول. غلورم مخ

گــماشته گان کلنتن موجي از تبليغات سؤ را عليه مونيــکاليونســـکي به راه انــداخته اند

واشنگتن : افشا شدن داستان معاشقه کلنتن رئيس جمهور مقتدر امريکا با يکتن از ماموران زير دستش در قصر سفيد، از آن جايي که حاکي از بي بندو باري در بار در امريکا ست از سوبي بصورت قطع نشان ميدهد که در آن سرزمين ديموکراسي با زن و حقوق او چه معامله مي شود. گزارشهاي رسيده از واشنگتن حاکي از ص٤،

شریعت

دامتیاز خاوند : دافغانستان دطالبانو اسلامي تحریك
دتأسیس کال : ۱۳۷٤ هـ ش
: د لیکوال هیئت ترنظر لاندې
مسؤول مدیر : الحاج مولوئ عبد الرحمن احمد «هوتك»
مرستیال : ملا أسد الله «حنیفي»
دیوې ګڼې بیه : په هیواد کې (۱۰۰۰) افغانۍ پهپاکستان‌کې(۳) کلداری
پوست بکس : (٤٧١)
په پیښور کې :دطالبانونمایندګۍټیلفون: ۸٤٤۳۳۱-۸۱۸۱٥۷-۸۱٥٦۲۷
جاري حساب : ٤:۳۸٥/۷ د افغانستان بانك مرکز
چاپ : دولتي مطبعه

د سرمقالي پاتي برخه

باشد بالاي مسلمانان واجب است اگر چه امیر معزول شخص مسلمان و صالح باشد، در غیر آن هر فرد مکلف مسلمانان به ترك آن همه واجبات ماخوذ اند، هدف عمده نهوض و قیام تحریك اسلامي طالبان در کشور، قربانیهاي جانهاي ارزنده فرزندان اسلام و برداشت این همه ناملائمات بوده است، مقصود در این مقاله تفصیل آن همه احکام فقهي و مکلفیتهاي امام مسلمین و ذمه واریهاي مسلمین در باب امامت کبري نیست بلکه اشارتي بوده به اهمیت قیام امنیت و ثبات در جامعه انساني . اگر در جامعه انساني امنیت کافي و مطمئن از نگاه داخلي و خارجي حکم فرما نباشد هم امور عبادت مختل میشود که عبارت اصل مقصود و هدف از خلقت انسانها و جنیان است و هم در امور زندگي اخلال مي آید که اینهم مفضي به اختلال امور عبارت میشود، زیرا: امور مذکور شرط تأمین زنده گي بوده و زنده گي سالم و مطمئن شرط اداي همه عبادات است؛ چنانکه همه ما و شما در مدت نزده و یا بیست سال در کشور ویران و عزیز خویش مشاهده کردیم و در ولایات شمال کشور هم اکنون مشاهده میکنیم که بالاي هموطنان مظلوم ما چها گذشته و چه ها میگذرد ؟

علاوه بر آن در اجراي قصاص ، حدود و واجبات عامه دیگر که بعضي از آن در بالا ذکر یافت علاوه بر اطاعت او تعالي و قیام امنیت برکات در شؤن زندگي و وسعت رزق با ان همراه مي آید چنانکه میفرماید : « و اگر ایشان برپامیداشتند حکم تورات و انجیل را و آنچه فرود آورده شده است بسوي ایشان از پروردگار ایشان (یعني سائر کتب) خوردندي از بالاي خود و از زیر پاي هاي خود...» سوره المائده یعني از اسمان و زمین بالاي شان وسعت زرق میشد؛

این یك حقیقت ثابت شده است که عمل به احکام الهي آنچنانکه امتثال و فرمانبري او تعالي است در عین حال سبب وسعت رزق و سبب حل مشکلات اقتصادي و اجتماعي مشود ازینجاست که در کشور عزیز ما با تطبیق قصاص ، حدود شرعي، امر بمعروف و نهي از منکر بحکم جناب عالیقدر امیر المؤمنین سلمه الله تعالي ازدیاد حاصلات زمین هاي زراعتي و حاصلات باغها و آغاز بنیاد سر از نو مالداري از میان رفته رونما گردیده است الحمد لله؛

هموطنان مسلمان و مجاهد را اداي وجیبه شکر خداوند منان جل جلاله از بس ضروري و لازم گشته است که امارت اسلامي افغانستان در تحت قیادت حکیمانه عالیقدر امیر المؤمنین سلمه الله تعالي به اجراي قصاص ، حدود ، امر بمعروف نهي از منکر، احیاي سنتهاي سید المرسلین «ص» اقامه امن و ازاله، فساد از یکطرف زنده گي مطمئن و پر امن را بر قرار ساخته و از جانب دیگر مسلمانان را از مواخذه ترك این واجبات وارهانیده در دایره اطاعت خداوند تعالي و تطبیق احکام شریعت او قرار داده است ؛

اگر هموطنان مجاهد ما شکر و سپاس این همه نعمتها را- که بعد از بیست سال مشکلات بیرون از حدو حصر - بجا نیاورند در زیر وعید ... و اگر نا سپاسي کردید پس عذاب من بدون شك سخت است » خواهند آمد - خدا نکند - ؛چونکه شکر و سپاس هر نعمت به تناسب آن نعمت میباشد لازم است که علاوه بر شکر زبان، نماز شکر و صدقه شکر دستیاري و پشتوانه همه جانبه شان را با امارت اسلامي با تمام اخلاص دوام بدهند.

کچکولونه

خبر دي چې امریکې په تیر یوه کال کې په خپلو پوځي تمرینانو کې ۷۰۰ ګولۍ ویشتلي او نژدې دوه زره تنه بارودیې الوزولي دي. دغه ګولۍ او بارود بواځي په د پوځي تمرینانو کې ویشتل شوي دا چې د نړۍ په نورو هیوادونو کې څومره امریکایي ګولۍ او بارود ویشتل شوي د هغې احصائیه لا نه ده خپره شوې، دا چې دغو ګولیو او بارودو څومره سیمې سیځلي او غلبیل کړي او څومره وداني یې کنډوالې کړي د هغه شمیر البته مهم نه ګڼل کیږي داسې ښکاري چې په دغه ګونو او ورانیو کې نه بشر تلف شوي او نه بشري حقوقو ته څه زیان رسیدلی دی !!!

وایي چې د سیاسي دلبندیو او تظریو وخت تیر شوي او د اقتصاد، تجارت او مارکېټنګ دوران راغلي دي، د کیوبا پولادي سرحدونو هم درزونه پیدا کړل او پاپ جان پول تر دغو درزونو ورتیر شو، معنا دا چې د فیدل کاسترو غونډي افراطي کمونیست هم چې کلونه کلونه د امریکې په سترګو کې لکه تیره اغزي ولاړ و پخ شو.

شوروي اتحاد دړې وړې شو، سور جنګ پای ته ورسید، د افغانستان جګړه توده شوه،د عراق وژونکي کیناوي وسلې له منځه ولاړې او په اقتصادي او تجارتي بندیزونوکي ښکیل شو، تر جمهوري ریاست پورې مربوطې ماڼۍ هم ویلټل شوې، د عراق، ماشومان له رنځونو او لوږې مري، عراقیان بې جنازې پر اوږو ګبرځوي او د نورو خاورو زړه ته یې وسپاري؟

د اقتصادي، مرستندویه او تجارتي بندیزونو ناوړه اغیز په ولس پربوځي نه په واکمنو، د صدام حسین زامن او لمسي به نه د درملو له نشتوالي سره مخامخ شي او نه له سوء تغذۍ سره، د طارق عزیز او نورو جنرالانو او لادونه اوس هم سره اوسپین لکه ګلاب غوړېدلي دي.

نو امریکې یا ملګرو ملتونو په چا بندیز لګولی تر داخلي استبداد لاندې ځپل شویو عراقیانو باندې، امریکا چې زړه کوي نو جنرال نوریګا په څو ساعته ولري امریکا غږ د سهارني په پښتو خپروني وخت پنځلس دقیقې کم کړ، ځکه چې مړه ګیډه فارسي وایي.

د ایران او امریکې اشاري او سترګکونه روان دي ممکن د زړې یاري په تازه کولو سلاشي.

جمهور رئیس بل کلنټن په راتلونکي میاشت کې د جنوبي آسیا هیوادونو سفر لري چې تیاري یې له هندي اوس نه پیل شوي دي.

د اسرائیلو د صهیوني رژیم پنځوس کاله پوره شول او څو ورځې وړاندې یې د پنځوسمي کلیزې جشن ولمانځه ددغه جشن

پتې پاڼې

شهرت ننګیال

کوماندويي عملیاتو کې لاس تړلې نیولی شي خو صدام په اقتصادي بندیزونو تر ځپل منتر لاندې راوستل غواړي، مطلب دا چې صدام هسې یوه پلمه ده هدف د عراق د خلکو ځورول او ځپل دي.

په عراق خو دا څو کاله اقتصادي بندیزونه لګول شوي خو د اسرائیلو د بدماشۍ هر کلي شوي او د فلسطینانو د آزادۍ، حقوقو او ملکیت د بلوسنې او تیرې له امله نه دا چې دېرې ګوته ورته نه ده نیول شوې بلکې لګیا دي شاه باسونه هم ګټي.

ایران هم داسې معلومیږي چې تر اودی لاندې راغلي وي، امریکې اعلان کړه چې د ایران له پاره به د امریکې غږ خپرونو فارسي پروګرام دوه ساعته زیاتي خپروني

د مراسمو یوه برخه داسې وه چې خلکو په کې بربنډو نڅا وکړه ... په دغه جشن کې د امریکې د جمهور رئیس مرستیال الګورهم برخه لرله چې د راتلونکو پنځوسو کلونو لپاره یې اسرائیلو ته د امریکې د ملاتړ ډاډ ورکړ.

افغانستان لا کنډواله پروت دي فقر، لوږې او اقتصادي ستونزو ورته کومي شلولي دي ملګري ملتونه درګرده خپلو مرستو د بندبدو ډکي ورکوي چې خپل دفترونه به تړي لکه په وران ویجاړ وطن چې لا د چا زړونه نه وي بخ شوي، چې بیا افغانان پیرنګي او روس د شرمیدلي ماتي حماسې د چا پر مخ تیرې نښې کړي، چې نور د مکناټن، کیوناري، براېدن، جنرال ګروموف او ... په کیسو او خاطرو خپلې شملې جګې ونښي نیولي، دا هر څه د یوه قهرمان ولس د ملي غرور د ځپلو هڅه ده . د یوه پټ انتقام کوښښ دي د یوه بل داسې ګواښ د مخنیوي لپه ده چې بیا چانه د افغان توره ونه ځلیږي دغه توره د بل چا له پاره له تیکي راوته وځي چې بیا د کوم استعمار په وړاندې د دریدو لیونتوب و نه کړي . ددې کار له پاره ددغه ولس د روحیې ځپل او زمولول ضروري دي چې ددغه پروسې بیلابیلې بڼې له تیرو پنځو شپږو کلونو راروانې دي د افغانانو لاسونه د سوال کچکولونه شول، دغه کچکولونه د مرستندویه ادارو په دروازو کې پورته شول د نوي نظام او وزیر اکبر خان مینې هر دریم کور د یوې موسسې دفتر دي په سرك تیریدونکو مدرنو موټرونو پنځم موټر د مرستندویه ادارو دي خو فقر او غربت هماغسې کومي شلولي دي زموږ لاسونه لوړې د سوال کچکولونه شول یوې او بلې دروازې ته اوږده شول اوس ددغه دروازو په تړلو د لوږې او مرګ تصویر زموږ د ذهن په تخته انځور وي په یوه پلمه په سې بله راسخي نه کیږي، که تور سري بربنډې نه کړي مرستې به دربانډې ودرېږي کسه داسې او هغسې موونه کړل کورونه به مو هنداسې ویجاړ پاتې وي.

دغه دړکي او ګواښونه د هماغه انتقام ثمري دي د هماغه وېرې څرګندونه ده او د هماغسې اندیښني لوري دي هوا زموږ د ملي غرور، عظمت او احساس د وژلو هڅه.

کمهریورانوژنې‌خیال‌اوفکرمې‌موږنه
پدي کې مې وطن تطوي‌تاوان‌لیدلی‌دی

مرغلرۍ

احمد شاه «وحدت»

* دعدل او انصاف یوه لحظه د (۷۰) کالو د عبادت نه غوره ده .

* چاچې یو پوند (٤٠) قدمه یوتلو الله تعالي د هغه لپاره جنت واجب کړ .

* که څوك علم پیښي ووځي او بیا یې نه مومي د هغه لپاره یوه برخه ثواب دي .

* یو یوه او یا عمله عالم په شیطانانو باندې له زرو عابدانو نه زیات سخت دي .

* د یوه شي اړیکې زړه سره دي او هغه خشوع ده .

* د یوه عالم غلطي د یوه عالم غلطي ده .

* یو مخلوق سر تر پایه خیر دي چې هغه فرښتې دي .

* یو مخلوق له خیر او شر څخه مرکب دي چې هغه انسان دي .

* یو مخلوق سر تر پایه شر دي چې هغه شیطانان دي.

* د محبت یو ساعت د سلو کالو د بې محبته ژوند نه ښه دي.

* یو پرهیز د (۱۰۰) علاجونو برابر دي .

* ځوان په یوه شي تباه کیږي هغه سستي ده .

* مالداره په یوه شي هلاك کیږي هغه بخل دي.

* عابد په یوه شي تباه کیږي هغه تکبر دي

* د الله تعالي یوه فرښته په بیت المقدس کښې اواز کوي چې څوك حرامه روزي خوري د هغه نفل او فرض لمونځ نه قبلیږي .

* په یوه کتاب کښې شفا ده چې هغه قرآن دي.

* د قرآن کریم په یوه یوه حرف لس لس نیکي ورکول کیږي

* یو غوره مثال : د تلاوت کوونکي مومن او متقي مثال داسې دي لکه منېه چې هم خوند لري او هم بوي.

* یوه مسئله : حضرت ابو دردا «رض» فرمایي : ماته د ټولې شپې د عبادت کولو څخه د دین یوه مسئله زده کول ډیر غوره دي .

* یو شي عزت ورکوي او هغه علم دي .

* یو شي سړي له علم څخه محروموي او هغه تمه او لالچ دي.

* د عمل دارو مدار په یوه شي دي او هغه نیت دي.

* الله تعالي ته یو شي ډیر غوره دي او هغه د حلالي روزي خوړلو څخه پس د هغه (الله تعالي) حمد او ثنا ویل دي

* یو شي مشکل دي مګر تر ټولو غوره دي او هغه تقوي ده .

* د (۷۰۰) علماؤ یو ځواب :

شقیق بن ابراهیم «رح» فرمایي ما د (۷۰۰) علماؤ څخه څلور سوالو نه وکړل او هغوي ټولو یو ډول ځواب راکړ

۱- عقلمند څوك دي ؟ څوك چې دنیا نه خوښوي.

۲- هوښیار او دانا څوك دي ؟ چې دنیا یې دوکه نکړي.

۳- غني (مالدار) څوك دي؟ چې د (الله تعالي) په ویش راضي وي.

٤- بخیل څوك دي ؟ چې له خپل مال څخه د الله تعالي حق ورنکړي.

* حضرت ابو هریرة «رض» فرمایي : څوك چې په اوداسه سره پاکې جامې واغوندي او ویده شي له هغه سره یوه فرښته وي او د شپې چې هغه سترګې غړوي، فرښته د هغه لپاره د بخښنې او مغفرت دعا کوي.

* بدترین غل هغه دي چې په لمانځه کښې غلا کوي یعني د هغه ارکان صحیح نه ادا، کوي.

* د لمانځه لپاره مسجد ته تلونکي ته په یوه قدم یوه نیکي ورکوله کیږي اویوه‌ګناه‌یې‌معاف‌کیږي.

* یوه غوره مقوله : محمد بن سماك «رح» د قبرستان خواته وکتل نو وې ویل : ددې حضیري چپ والي او برابرۍ دې تاسو دوکه نه کړي . په دې کښې به څومره پریشانه او مغموم وي او ددې قبرستان والاؤ تر منځ ډیر فرق دي هوښیار هغه څوك دي چې قبر ته د ورتلو نه مخکې آمادګي او تیاري ونیسي.

* د جنتیانو لپاره د ټولو نعمتونو څخه غوره نعمت یو دي او هغه د الله تعالي دیداردي .

* یوه روپۍ خو له یو لکو روپیو نه غوره : رسول الله «ص» فرمایلي دي : ځیني وخت د صدقي یو درهم له یو لك درهمو څخه غوره وي، صحابه وویل دا څنګه ! یو ډیر مالدار سړي له خپل مال څخه یو لك خیرات کوي او غریب چې ورسره دوه درهمه وي هغه یو درهم د الله تعالي لپاره صدقه کوي. ددا یو درهم له یو لك څخه غوره دي.

کورنی فقه

شپږمه برخه (۲۸)

په اسلام کې د نسل د مخنیوي حکم

قاضي محمد حسن "حقیار"

۳- که له نوي حمل سره دا اندیښنه را پیدا شي چې د مور شیدې به خرابي شي نو تي رودونکي کوچني لپاره تاوان دي او کوچني کمزوري کوي نو بیا هم د حمل مخه نیول روا دي . رسول الله «ص» به هغه څه خوښول چې امت ته به یې په کې ګټه وه او په کوم کار کې به یې چې امت ته ګټه نه وه یا به یې په کې امت‌ته تاوان وو هغه یې نه خوښاوه فرمایي : « لا تقتلوا اولادکم سراً فان الغیل یدرك الفارس فیه عثرة» ابو داود یعني : « خپل اولاد په پټه توګه مه وژنې لکه چې د شیدې ورکوونکي کوچني له مور سره جماع کول باندې اولاد ته تکلیف رسیږي »

خو میړونو ته د تکلیف په خاطر بې جماع حرامه نه کړله ځکه چې دوه کاله انتظار سخت دي همدا راز د رسول الله «ص» په وخت کې نورو قومونو دا کار کاوه خو کوچني ته یې هیڅ زیان نه رساوه لکه چې فرمایي « لقد همت ان انهي عن الغیلة ثم رأیت فارس و الروم یفعلونه و لا یضر اولاد هم شیأ » مسلم

«ما غوښتل چې د شیدې ورکوونکي کوچني له مور سره له جماع نه منع وکړم مګر زه خبر یم چې د فارس او روم خلك دا ډول کوي او بچیانو ته یې هیڅ زیان نه‌وررسیږي »

ابن قیم جوزي «رح» ددې دواړو احادیثو د تطبیق صورت دا بیان کړیدي چې « د رسول الله «ص» په وړاندې دواړه خواوي دي یوه دا چې د تي رودونکي کوچني په شتوالي کې د کوچني له مور سره جماع د کوچني لپاره زیانمنه ده که څه هم ددې زیان کچ د کوچني د وژنې مرحلې ته نه رسیږي . رسول الله «ص» ددې زیان په نظر کې نیولو سره د کوچني له مورسره په دې وخت کې جماع منع کړله مګر د حرمت درجې ته یې ونه رسوله . خنو سدرالذریعه (لاري بندولو) په توګه یې دا کار کمول غوښتل خو بلي خواته دا مصلحت د هغه فساد په وړاندې ډیر کم دي چې د رضاع په موده کې د مباشرت له نشتوالي نه پیدا کیږي او په ځانګړي ډول د ځوانانو او قوي شهوت د خاوندانو لپاره. همدا راز د رسول الله «ص» په وړاندې د دوه قومونو د عمل طرز پروت وو چې دا ډول یې کول مګر منع یې نه کړل .

د اسلام مبین حلال و حرام په حواله . مفتاح دارالسعادة ص ٦۲ زاد المعاد ص ٦٦

خنو زمونږ په وخت کې چې د طب او ساینس د پرمختګ وخت دي او ډول ډول روغتیایي اسانتیاوې را پیدا شویدي داسې وسایل او دواګانې هم شته چې د هغې د استعمال په واسطه که په دې وخت کې له ښځې سره جماع هم وشي نو کوچني ته د زیان د رسیدلو مخه یې نیول کیږي یعني د شیدو د خرابیدلو مخه هم نیول کیږي او د هغه فساد لمن هم ټولیږي چې د رضاع په وخت کې د جماع له نه کولو څخه پیدا کیږي

٤- که چیرې د ښځې په تیونو کې شیدې نه وي او د کوچني پلار کوچني ته د شیدو ورکولو لپاره بل څوك هم نه شي موندلي او د کوچني د وژني ویره وي نو دا هم په عذر کې شمیرل کیږي او په داسې وخت کې هم د نسل مخه نیول روا دي .

٥- د ښځې د بدن کمزوري هم عذر ګڼل کیداي شي په داسې حال کې چې د حمل تکلیف او د حمل د زیږولو ستونزه د ښځې لپاره د زغم وړ نه وي او بدن یې نور هم کمزوري کوي همدا راز که چیرې انسان ډیر نیستمن وي یا د انسان اولاد ډیروي او یا په صحیح معنی د کوچني روزنه نه شي کولی یا دا چې سر په سر حمل اخلي نو په دې ټولو صورتونو کې د حمل مخه نیول روا دي .

٦- ځنې علما، په پورتنیو حالاتو کې د حمل مخه نیول نه یوازې دا چې روا بلکه مستحب بې ګڼي. امام غزالي په پورتنیو حالاتو پسې دا هم اضافه کړیده چې که چیرې ښځه په خپلې ښکلا ویریدله نو دا د زوجینو (ښځې او خاوند) حق دي چې د نسل مخه ونیسي . فقه السنه جلد ۲ ص ۱۷٦

٧- په سفر کې او په دارالحرب کې د نسل مخه نیول روا دي همدا راز که ښځه بد اخلاقه یا بد ګذرانه وي نو د هغې د تادیب یا رټلو لپاره هم د نسل مخه نیول روا دي .

د هنر او ادب ترځ

چي کشور د افغانانو معطر کا
د هر بیت مصرع مي زلفي د خوبان کړي

د رحمان بابا د دودیزي پسرلني مشاعري ځني شعرونه

له اغیار سره خندا څه په کار نده

درنو او محترمو لوستونکو!
تاسي به خبر یاست چي د روان هجري قمري کال د محرم الحرام د میاشتي په اتمه نېټه چي د هـ ش کال د غوايي له څوارلسمي سره برابره وه د کابل په انټرکانټيننټل هوټل کي د راډيو تلويزيون او افغان فلم د عمومي رياست د هنر او دابياتو د اداري په اهتمام د رحمان بابا پسرلني او عنعنوي مشاعره جوړه شوه . د غونډي طرحه د رحمان بابا دا بيت وو « له اغيار سره خندا څه په کار نده» د شریعت اوونیزي اداري د شاعرانو د تشويق لپاره دا ځل د هنر او ادب د ترځ ځانګړي مخ همدي مشاعري ته وقف کړي دي چي د صفحي له حوصلي سره سم به ځني شعرونه په دي مخ کي نشر ته وسپارو.

د توبي اوبنکي

محمد نذیر «احمدزي»

بي له خدايه مشغولا څه په کار نده
ناز په ژوند ددي دنيا څه په کار نده
د توبي په اوبنکو ځان ته غسل ورکړه
په قهقه سره خندا څه په کار نده
د مشرانو پند ته غوږ نيسه هر کار کي
له جاهل سره سلا څه په کار نده
يو او بل ته د ورورۍ لاسونه ورکړي
به پرديو اتکا څه په کار نده
چي اخلاص بي په عمل ګفتار کي نه وي
عبادت بي په ريا څه په کار نده
د عشق بڼ د زړه په وينو تازه کړي
د بلبل په شان جفا څه په کار نده
د غيرت توري ته لاس يو ځلي بيا کړه
پردو غشو ته و اوا څه په کار نه ده
چي لرو لرغون تاريخ او لوی نشان خپل
د بل ساز ته ګډيدا څه په کار نده
مور ژوندي د تن په وينو هميشه لو
موږ ته دم د مسيحا څه په کار نده
د زړه حال ورته په زغرده زغرده وايه
له دلبرو نه حيا څه په کار نه ده
ما «نذير» لره د يار رضا په کار ده
بس له دي نه ماسوا، څه په کار نه ده

له اغیار سره خندا څه په کار نه ده
د رحمان بابا په اقتفا

ګوهري

نا اهلانو ته وينا څه په کار نه ده
ناسور زخم ته دوا څه په کار نه ده
چي په يو ساعت کي سل رنګ بدليږي
بي مخ ګوره مه شا څه په کار نه ده
عبث کار دي ازمويل د ازمويلي
جفا کار سره وفا څه په کار نه ده
د رحمان بابا وينا د کاڼي لیک دي
« له اغيار سره خندا څه په کار نه ده »
حقارت کي کښه پاڼي وي د ګلونو
دا چوښو او دا ښکلا څه په کار نه ده
د ناموس په بدله بي راکوي چي
د بلچيا دي وي زما څه په کار نه ده
چي د خداي له معرفته خبر نه وي
وريسي بيا اقتدا څه په کار نه ده
خلاحول د بي مشاغ د کان عبث دي
غابښ چي ټلري خندا څه په کار نه ده
د سراف په مخکي کلبي ـ چليږي
د عالم مخکي وينا څه په کار نه ده
لوي ځښتن ته په خلوت کي په سجده شه
تظاهر مکړه د ريا څه په کار نه ده
دا دنيا خداي ده له عشقه پيدا کړي
بي له عشقه مشغولا څه په کار نه ده
«ګوهري» داستا په عشق کي نارا يوځ شو
نور پري مکړه ابتلا څه په کار نه ده

ژیړي پاڼي

قاضي محمد حسن «حقيار»

بي وزره شوق د هوا څه په کار نده
د ديدن تمه وړيا څه په کار نده
يم ذره د لمر په وړانګو کي مي کور دي
مانه قصر د حمرا څه په کار نده
ژيړي پاڼي په تازه د عيسى «ع» دم کړي
مړه احساس ته مسيحا څه په کار نده
ما ويل مهر دي زما سر د سحر تاوي!
تا ويل : شنا غيږ کي رڼا څه په کار نده
زما د عشق فانوس کي زه او ته يو زه يو
ستا بښايست وايي : وفا څه په کار نده
څه خودي، خو چي منظور شومه که رد شوم
زړه د رژيږه! خو ژړا څه په کار نده
هر صادق ريباړه ميني پيغمبر وي
شوم قاصد ته تمنا څه په کار نده
چي په ورکړه بي د پت او ناموس غواړي«۱»
بس د استادي وي زما څه په کار نده
جنګ په ستا سوري خوزوړه په مانه وبي
سترګو! برندي شئ حيا څه په کار نده
پانړه، پانړه د تاريخ مي راته وايي
«له اغيار سره خندا څه په کار نده »
آه او سوز هم چي بيدار نه کړل «حقيار»
دي کنهو ته شور نوا څه په کار نده

«۱» په شبرغان کي د امريکائي هيئت مخي او هر کلي ته د پښتو راوستلو ته اشاره ده

د ستر صوفي شاعر عبدالرحمن بابا د شعر ددي ټکړي په طرحه چه وايي
"له اغيار سره خندا څه په کار نده"

پوهاند ملا محمد اسحق «نظامي»

له اغيار سره خندا څه په کار نده
له خندا سره ژړا څه په کار نده
چه ته لاس او دي لستونې درکوي تل
له دي دوست څخه وفا څه په کار نده
کوم بزاز چه کړي دوکه په پوره ګزکي
دي دوکان نه بيا سودا څه په کار نده
چه پاک خداي په دښمني دي پيژندلي
دي دښمن سره سلا څه په کار نده
چي وي تيول صلت رنهلي دوست به تشي
ددغه دښمن حلوا څه په کار نده
په ظاهره وي حلوا باطن کي زهر
مرګ پخپله تمنا څه په کار نده
چه د ځان ژوندون د بل په مرګ کي ويني
ناروا دد ناروا څه په کار نده
چه راوونې ميدان د سربازي ته
بيا له سره ويريدا څه په کار نده
د يوه خداي عبادت بندګي خوند کړي
بي له خدايه ليدا څه په کار نده
د دنيا شپي له عزته سره خوند کړي
بي عزته دا دنيا څه په کار نده
چه په خوله د ښوا و نيکو خبر کاندي
بي عمله بي ويناڅه په کار نده
ګلان وکره اغزي څه په کار نه دي
وکړه ښنه ځند تر سبا څه په کار نده
چي بي عمق و اندازه در معلوم نه وي
دي اوبو کي لمبيدا څه په کار نده
دا به غوره نصيحت د نظامي وي
بي ګودره ګډيدا څه په کار نده

څه په کار نده

وفايار «منګل»

اشنايي د نا اشنا څه په کار نده
ناست ، ولاړ له هر چا څه په کار نده
پکار نده شيبلوي دي چي هڅوکي
د رقيب سره سودا څه په کار نده
زړه چي، مات شي، به پشري نه پيوندېږي
پام کوه د زړو سزا څه په کار نده
دا حديث دي الحيا نصف لايمان دي
چاوي ! چا سره حيا څه په کار نده
يوه دوه ځله خطايي سهوه شميره
تل تر تله خو خطا څه په کار نده
چي قيمت د يوه غيران نه پري ځانيږي
په ټيټ شي ثوره بها څه په کار نده
هديري د لويږي ندي جوړي شري
ځان عادت کول په غلا څه په کار نده
وايي چپ لاس چي په ښي لاس خبر نه شي
په سخا کي خو ريا څه په کار نده
«وفايار» تنها مه ځه بل هم بوځه
په دي لاره تګ تنها څه په کار نده

د الفاظو کربلا

عبداللطیف «نثار»

ساقي مينه دي رسوا څه په کار نده
دي حرم کي زړه د رزا څه په کار نده
ته مي روح يي ته مي تن ته مي کفن يي
بي له تاراته دنيا څه په کار نده
څو سلګۍ د مېغيژنو اسويلويي
ژونده ! ستا نه تمنا څه په کار نده
په تيارو او تورتمو باندي مين يي
شاميره که ستا رڼا څه په کار نده
د رحمان د خم پيالي به پري خفه شي
په دي ټول ښار کي کنا څه په کار نده
قرآن وايي چي يي ژوند جاويداني دي
د شهيد سرته ژړا څه په کار نده
که جذبي دي د ايثاروي نو «نثار» شه
د الفاظو کربلا څه په کار نده

څه په کار نده

استاد عبدالحمید «شورش»

لار د نفس د هوا څه په کار نده
په خپل دين وطن سودا څه په کار نده
چي له عاره بي تاريخ ليکلي نه شي
د ملت سره جفا څه په کار نده
چي درزونه پري د زړه کچکول ونه کړي
نه ده مينه ده ريا څه په کار نده
ګل په ډکه خوله خندا مينه رسوا کړه
د بلبلو پري غوغا څه په کار نده
له هغي ځيني بي غواړه چي څه درکړي
تش کندوته تمنا څه په کار نده
د عمل ډيوه رڼا کړه ځه په وړاندي
هسي خوله کي دي وينا څه په کار نده
چي مجنون غوندي بدنام په مينه نه شي
که ليلا وي در په شا څه په کار نده
چي پر مخ خپره خندا بي ځيني لوټ کړه
داسي ظلم ناروا څه په کار نده
چي په څوکوبي پروت ګردد اسويلو وي
داسي شونډو ته مسکا څه په کار نده
چي د يار په زړه ګذاريي د خنجر وي
«له اغيار سره خندا څه په کار نده»
چي خپره د وحدت او ورورولي شي
يکي بيا زما او ستا څه په کار نده
د «شورش» درنځ علاج بد مسيح دي
دا د نن، صبا دوا څه په کار نده

د اشنا کيږدي

محمد عيسى «جانان»

« له اغيار سره خندا څه په کار نده »
له اغيار سره سودا څه په کار نده
عشق چي نه وي نو په مادي شي نسکوره
بي له ميني دا دنيا څه په کار نده
ځاځي اوښکي مي باران په ځيرله سترګو
راته مه خانده بريښنا څه په کار نده
چي چاړه بي د مسلمه په وينو سره کړه
له ظالم سره وفا څه په کار نده
سل که ووژني ژرنور به راپيدا شي
بي مجنونه خو ليلا څه په کار نده
د اشنا کيږدي ته ورسيدم لمره
نور نو پريوځه رڼا څه په کار نده
زه جانان به خپل جانان په زړه کي ستايم
پاکي ميني کي ريا څه په کار نده

څه په کار نده

سيد امين «مجاهد»

« د اغيار سره خندا څه په کار نده »
بي ننګ يار سره وفا څه په کار نده
ليلا هغه وخت ليلا شي چي مجنون وي
بي مجنونه خو ليلاڅه په کار نده
حوک چي زړه کي د هيواد مينه ځاي نکړي
تش کندو دي ورته ساه څه په کار نده
نه مري نه مري د اسلام شهيدان نه مري!
په ژوندو پسي ژړا څه په کار نده
لور افکار تل د ميراني نښانه وي
تيټ پرواز لره عنقا څه په کار نده
لاس نيوي د بيوزلانو کي ثواب دي
بيناپانو ته امسا څه په کار نده
که دي زړه په مسکين سوزي نو خير ورکړه
بيا په قبر بي غوغا څه په کار نده
خوب، خندا د بي غمبا شو خلکو کار دي
زخمي زړونو ته خندا څه په کار نده
سوکالي که بي د خلکو ممکن نه وي
خور حيګر ته مي دوا څه په کار نده
زړه دي هر حه د يار در که صدقه کړل
مجاهده! ستا رضا څه په کار نده

د رحمن بابا پسرلني مشاعري ته ډالي

څه په کار نده

پرغل

دبل اوښکو ته خندا څه په کار نده
د بي درده ژوند هوسا څه په کار نده
د زمزم په نوم بي زهر په مونږ وڅکل
هر يو جام ته بي موسکا څه په کار نده
منزل اوږد دي پښي بيلي دي خوځو به
هدف لور دي ابسارتيا څه په کار نده
له هر ګامه مو بريښنا زيږي چي دروڼو
قافلي ته مو رڼا څه په کار نده
چي عمل وي د دښمن راته زقوم دي
له دښمنه مي دوا څه په کار نده
ځوک مي نور بولي ځوک سپين راته ګوابښيږي
ريښتيا وايم دروغ ويناڅه په کار نده
د رحمان شعر به نه پلوري په زرو
دي ادب باندي سودا څه په کار نده
تصرف به ترنمه سره يو کړو
د «پرغل» تشه دعا څه په کار نده

ژوند

خوان مارتينيز د شعر پښتو ژباړه چي د رحمان بابا مشاعري ته بي ليکلي دي
او په خپله بي د مشاعري ګډون کوونکو ته واوراوه .

په دي ارته ځمکه باندي،
هر څه دروني او تيريږي
ورځ رڼا د لمر په ځرک شي،
بيا تياره شي چي لمر نه وي
شبه سپوږمي باندي رڼا شي او بيا مړه شي چي سبا شي
د خندا عمر هم لنډ دي، چي بدله شي په اوښکو
کله اوښکي په خندا شي، کله داسي کله هسي
يو راز پاتي نه دي هيڅ شي، کله يو شان کله بل شان
دا بدلون چي پيښيږي
په هر ځيز په هر موجود کي
وخت د باد غوندي تيريږي ، دروني وړاندي
هر څه وړي په خپله مخه، لکه خاوري او خځلي
ژوند سوغات دي، هديه ده
ارزښتمنه بڼه شيبه ده
ورته ځير شه درته وايم :
چي بي ورنه کړي له لاسه، هيڅ به هيڅ دا!

څه په کار نده

لاهر

ګلان مخ خپل مدام ستا به مخ کي ګوري
آينې له تماشا څه په کار نده
مادي وربځو ته خپل پورته کړل لاسونه
ناوي مياشت ده خو دعا څه په کار نده
دا دنيا خو بس په تا باندي دنيا ده
بي له تانه دا دنيا څه په کار نده
که راځي نو همدا نن راشه جانانه
د نن مړه ته بل سبا څه په کار نده
په کتاب دعاشقي کي روايت دي
محبت کي ناروا څه په کار نده

محترمه دوکتورس راضیه «کوهستاني» در شفاخانه ...

دواخانه، مجهز نیز بخش هاي عمده این شفاخانه را تشکیل میدهد .

در شفاخانه صحت طفل اندرا گاندي روزانه تعداد زیاد اطفال به صورت مجاني و رایگان تداوي گردیده و مریضان قابل بستر تحت مراقبت جدي دوکتوران قرار گرفته و براي شان از جانب شفاخانه ادویه لازم به صورت مجاني داده میشود.

خبرنگار هفته نامه شریعت جهت معلومات بیشتر خوانندگان عزیز مصاحبه، را با محترمه دوکتورس راضیه «کوهستاني» که یك تن از دوکتوران سابقه دار و ورزیده این شفاخانه است ؛ ترتیب داده اند که خدمت تان تقدیم میگردد :

از محترمه دوکتورس راضیه کوهستاني در آغاز در مورد تعداد داکتر و نرس طبقه اناث در این شفاخانه و هم چنان در رابطه به شرایط پذیرش مریضان و ظـــرفیت بستر هاي شفاخانه پرسیدیم موصـــوفه چنین اظهار داشتند :

در شفاخانه صحت طفل به شمول یك متخصص انگلیسي بنام خانم جکي که از جانب موسسه خارجي «اطفال در معرض خطر» معرفي گردیده ، بیست داکتر و چهل نرس از طبقه اناث شب و روز مصروف تداوي و خدمت اطفال کشور میباشند. در این شفاخانه که ظرفیت سه صد بستر را دارا مي باشد همه اطفال مریض بدون کوچکترین قید و شرط تداوي و داخل بستر میگردد و از ایشان مراقبت جدي صورت گرفته و ادویه لازم براي مریضان به صورت مجاني داده میشود.

محترمه دوکتورس کوهستاني در مورد کمك موسسات خارجي با شفاخانه صحت طفل چنین گفتند : این شفاخانه را بر علاوه وزارت صحت عامه امارت اسلامي افغانستان ، موسسات خارجي نیز در بخش هاي مختلف اکمال میداره. در بخش اسهالات و امراض تنفسي موسسه خارجي «حمایه اطفال»، در بخش سؤ تغذي موسسه «اکشن فیم» در بخش هاي سرویس داخله، مراقبت جدي داخله زنانه، نوزاد ، جلدي، گـــوش و گلو، و سوختگي را موسسه «اطفال در معرض خطر» کمك مي نمایند.

در پاسخ به این سوال : در این ایام کــه هوا رو به گرمي است بیشترین حادثات را کدام نوع مریضي تشکیل میدهد ؟ محترمه کوهستاني چنین اظهار داشتند : در موسم گرما بیشترین مریضان ما را قي و اسهالات تشکیل میدهد . . بخش مبلغین صحي شفاخانه صحت طفل در ساحات مختلف شهر کابل مصروف تبلیغات صحي براي والدین و به خصوص مادران هستند باز هم من در این جا تاکید میدارم که مادران باید در قسمت نظافت اطفال شان توجه جدي مبذول دارند ، والدین باید بدانند که اگر طفل شان مصاب به اسهال بدون ناستفراغات باشد باید از پاکت هاي ORS استـفـادهٔ نمایند طوریکه یك پاکت ORS را در یك لیتر (٤ گیلاس آب نوشي) آب جوش داده شده سرد شده باشد حل نموده براي اطفال شان بنوشانند . همچنان غذا هاي مانند شورباي ترکاري، آب برنج ، میوه جات و مایعات فراوان به اطفال داده شود. و هیچگاه طفل را خود سرانه در این حالات پرهیز از غذا ندهند.

اگر اسهال زیاد باشد باید هر چه زود تر به مراجع صحي مراجعه شود.

محترمه دوکتورس راضیه «کوهستاني» پیشنهاد و گفتني شانرا به فامیل هاي مریضان چنین اظهار داشتند :

از فامیل هاي مریضان تقاضا میداریم که از آوردن اطفال صحتمند به شفاخانه جداً جلوگیري نمایند همچنان فامیل هاي مریضان بدانند که آوردن دسته هاي گل، عطریات کاملاً به صحت مریضان مضر تمام میشود. پایوازان نباید بالاي بستر مریضان بنشینند و از کشیدن سگرت و انداختن نصوار جداً جلوگیري صورت گیرد.

همچنان از مادران اطفال مریضان تقاضا میداریم که در دهلیز ها بي مورد گشت و گذار نه نمایند هیچگاه در شفاخانه بلند بلند صحبت نکرده و از پوشیدن زیورات و آرایش ها جداً جلوگیري نموده و و حجاب اسلامي را در شفاخانه مراعات نمایند و مراقبت جدي حال طفل خود باشند. هم چنان از ورود پایوازان ذکور معذرت خواسته میشود. در این قسمت ما از مقام محترم وزارت صحت عامه تقاضا میداریم که یك تعداد افراد مسوول را به دروازه دخول موظف نمایند تا از ورود پایوازان ذکور و افراد مسلح ایکه به عیادت مریضان شان مي آیند جلوگیري نمایند.

وقتي از محترمه دکتورس راضیه پرسیده شد که آیا جهت بهبود کار هاي تان پیشنهاد و یا انتقادي موجود است ؟ چنین پاسخ ارائه داشتند : چون فعالیت هاي شفاخانه هاي شهر کابل به خصوص بخش اناث روز افزون است بناً به مقامات محترم وزارت صحت عامه امارت اسلامي افغانستان پیشنهاد میدارم که باید براي محصلات سال اخیر پوهنحي طب زمینه دوره ستاژ در شفاخانه هاي مختلف اناثیه فراهم گردد و از ایشان در آینده نزدیك منحیث داکتران و خدمتگاران جامعه استفاده صورت گیرد.

هکذا به غـذاي دوکـتوران و نوکـریوال شفاخانه صحت طفل توجه جدي صورت گیرد ، و معاشات و حق الزحمه هاي دوکتوران و پرسونل شفاخانه به وقت و موقع آن پرداخته شود.

مصاحبه کننده : سلطانه «رحیم»

د سرپرستي شوری ...

نعماني سعودي عربستان ته د خپل سفر د ارزښت په باب حرګندونې وکړې محترم نعماني وویل چې په هغو لیدنو کتنو او خبرو اترو کې چې د اسلامي هیوادونو د کنفرانس د سازمان له مرستیال محترم ابراهیم بکر او د پرمختیایي بانك له رئیس او په سعودي عربستان کې له یو شمیر اوسیدونکو مهاجرو افغاني استادانو او محصلانو سره وشوي د لوړو زده کړو په برخو کې د اوسنیو ستونزو، د تحصیلي بورسونو، د درسي او تحقیقي موادو د برابرولو او د کمپیوتري پروګرامونو په باب خبرې اترې وشوې البته ددغو لیدنو کتنو او خبرو اترو نتیجې مثبتې او ګټورې وې او د سعودي عربستان لخوا یو شمیر تحصیلي بورسونه هم ورکړل شول. وروسته د سرپرستي شورا محترم مرستیال محترم مولوي عبدالکبیر د لوړو زده کړو وزارت د سرپرست د سفر نتیجو له امله خوښي حرګنده کړه او وې ویل چې د لوړو زده کړو وزارت باید د سعودي عربستان د مقاماتو له امکاناتو او د همکارۍ او مرستو دوام او پراختیا په لاره کې له هیڅ راز هلو ځلو نه دده ونه کړي.

د کندز ولایت د ...

ورلو په لاره کې په ټول قوت سره د افغانستان له اسلامي تحارت سره همکاري کوي.

ښاروالي ولایت لوګر

توزیع ۱۷ باب دوکان خامه به خاطر سرسبزي شهر جدید لوگر در ساحات فرعي و کنار جاده هاي شهري داخل ماستر پلان ٤٥٠٠ اصله نهال مثمر و زینتي وا غرس نموده و قرار است سه باب چوك ترافیکي را در کنار جاده عمومي بطور پخته و اساسي اعمار نماید که از جمله یك باب آن تکمیل و دو باب آن در اینده اعمار گردد.

د کابل له مربوطاتو ...

د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راکړ په تر لاسه شویو وسلو او مهماتو کښې پنځه کلاشینکوفونه دوه توماڼچې ، دهاوان سل مایتونه، د ټانك ضد دري مایتونه، د دوه اتیا میلمتري توپ لس ګولې، د کلاشینکوف یو صندوق ګولي او یوه روسي مخابره شامل دي چې د نظامي استخباراتو د ریاست د موظفینو د هلو ځلو له امله د کابل ښار له مربوطاتو نه تر لاسه شویدي.

د یو بل خبر له مخې د ملي دفاع وزارت د کشف ریاست د موظفینو د پاملرنې او هلو ځلو له امله د دوشنبې په ورځ د چار اسیاب ولسوالي له مربوطاتونه د توغندي یو سلو پنځه ګولي تر لاسه شوي.

د لوی صوفي او عارف ...

پدغې پرتمینې غونډې کې په ګڼون کوونکو شاعرانو باندې د نغدې سوغاتونو له ویشلو وروسته ددغې غونډې د ټول جریان نتیجه د اطلاعاتو او کلتور وزارت د نشراتي معین محترم مولوي رحیم الله زرمتي لخوا وځیړل شوه چه پکې یې له ګډون کوونکو شاعرانو څخه مننه او شکریه ادا کړه او پدې اړه یې د شریعت راډیو له مسؤلینو خپله ژبانه خوښي ښرګنده او د دوي ددعایي په لوستلو سره غونډه پاي ته ورسیده .

درانه لوستونکي کولی شي چې ددې مشاعرې ځنې شعرونه د شریعت اوونیزې د همدې ګڼې د هنر او ادب د ټرې په ځانګړي مخ کې ولولي.

د افغانستان د اسلامي ...

غونډه کې د کلام الله مجید د څو ایتونو له لوستل کیدو وروسته وینا والو په وار سره د افغانستان د اسلامي امارت د هدفونو او ارزښتونو په هکله خبرې وکړې او یو ځل بیا یې د عالیقدر امیر المؤمنین په مشرې د افغانستان له اسلامي امارت سره خپل بشپړ ملاتړ اعلام کړ . .

غونډه په هیواد کې د سولي او امنیت د تامین او د جګړې او د وینو د توئیدو د بندولو په باب د دعایي په لوستلو سره پایته ورسیده.

هفده تن محبوسین از ...

تعین گردیده بود به تاریخ ۷ محرم نیز هفده تن از محبوسین محبس ولایت کابل را بعد از غور و ارزیابي دوسیه هاي تسبتي شان از حبس رها ساختند.

کار هیأت متذکره مبني بر بررسي دوسیه هاي متهمین ادامه دارد .

گماشته گان کلنتن موجي ...

آن است که دعاوي دایر شده علیه کلنتن که تمام مدعیان وي زناني هستند که مورد هوس جنسي او قرار گرفته اند یکي پي دیگر به بهانه هاي گوناگون از نظر انداخته میشود. و هنوز مدارکي وجود ندارد کـه کلنتن را عــــــملاً به محاکمه کشاند، راپور مي افزاید که اکنون عــلاوه از استفاده سؤ از سمت و قدرت فاجعه، دیگري که علیه دختران و زنان مظلوم در امریکا آغاز یافته تبلیغات سو بر ضد آنهاست، را پور مي افزاید که بخاطر بي اعتبار ساختن شخصیت اخلاقي مونیکا لیونسکي گماشته گـــان کــــلنتن موجي از تبلیغات سؤ را علیه مونیکا به راه انداخته اند.

اخلاص امارت اسلامي افغانستان و نیات شوم مخالفین

اخیراً مذاکراتي که غرض رفع مشکلات و اختلاف نظر ها در مورد مواصفات اعضاي کمیسیون علما . تعین تاریخ و انتخاب جاي مناسب براي تدویر جلسه کمیسیون علما در اسلام اباد تدویر یافته بود نسبت عدم حضور نمایندگان مخالفین در جلسه موعود بدون صدور کدام اعلامیه رسمي در نیمه راه قطع گردید و جانب مخالف امارت اسلامي با صدور اعلامیه فیصله مهمي را که توافق بر سر تعداد و مواصفات اعضاي کمیسیون علما در آن مضمر بود و هر دو جانب به آن موافقه نموده بودند غیر قابل قبول اعلام داشتند و دلیل آوردند که قبل از تدویر جلسه کمیسیون علما در همین نشست اعضاي گروه تماس در حالیکه وظیفه شان صرف رفع اختلاف نظر ها در مورد اعضاي کمیسیون علما بود در مورد اختتام به اصطلاح محاصره هزاره جات باید فیصله صورت بگیرد. در غیر آن آنها به گفت و شنود شان در مورد مسایل ذي علاقه ادامه نداده و توافقات قبلي را غیر قابل قبول مي پندارند جانب امارت اسلامي افغانستان از ابتداي مذاکرات با اخلاص کامل به آغاز گفت و شنود و حل مشکلات جاري از طریق فیصله شرعي علما ، اشتیاق کامل داشته بدین منظور هیئت عالیرتبه، که مشاور و سخنگوي خاص مقام امارت اسلامي افغانستان صدارت آنرا به عهده داشت غرض اشتراك به اسلام اباد تشریف فرما گردید اما نیات شوم جانب مخالف از آغاز مذاکرات هویدا بود زیرا هیئت مخالفین را شخصي رهبري میکرد که عضویت رسمي ائتلاف مخالفین را نداشته و بنا بر قول موصوف اوشان عضو شوراي مشرقي مي باشد از این انتخاب میتوان به خوبي استنباط نمود که هیئت مخالفین واقعاً نیت نیکي در مورد موفقیت مذاکرات نداشته و صرف غرض خوشنودي و جلب همکاري شوراي مشرقي هیئتي تحت عنوان اشتراك در مذاکرات اسلام اباد تعین و ریاست آنرا به نماینده به اصطلاح شوراي مشرقي داده در حالیکه هیچ عقل سلیم نمیتوان پذیرفت در چنین مذاکرات سرنوشت سازي ریاست یك هیئت به کسي سپرده شود که اصلاً عضویت جانب اشتراك کننده را نداشته و نه از کدام قوت و یا جانب قابل حساب حمایت مي گردد بر علاوه در هیئت مخالفین اختلاف نظر هاي شدید موجود بوده که مشاجره تند رئیس هیئت با داکتر طالب نماینده حزب وحدت در جریان رسمي مذاکرات شاهد این ادعا میباشد همچنان جانب مخالف از آغاز معتقد بودند که در صورت عدم پذیرفته شدن خواهشات شان به نتایج مذاکرات هیچ اهمیتي قایل نخواهند شد در غیر آن اگر مذاکرات اسلام اباد را قابل اهمیت مي پنداشتند هیچگاه ریاست آنرا به کسي نمي سپردند که عضو ائتلاف آنها نبوده و با اکثر نظریات شان موافقت نداشته و از اعتماد شان برخوردار نیست. در جریان مذاکرات در حالیکه جانب امارت اسلامي افغانستان از انعطاف بي مانندي کار گرفته با وجود نمایندگي مردم بیست دو ولایت کشور به صورت مستقیم و اکثریت اهالي ولایات تحت تصرف ملیشه ها بصورت غیر مستقیم، حق مساوي به جانب مخالفین در کمیسیون علما قایل گردیده و از ملاحظات قبلي در مورد مواصفات اعضاي طرف درگیر نیز صرف نظر نمود اما باز هم نماینده گان مخالفین اصرار داشتند تا همه خواهشات آنها قبول گردیده ، مشکلات و پرابلم هاي عام جامعه افغاني را زیر پا کرده و صرف بر موضوع رفع مشکلات مناطق اکمال کننده تفنگداران خود پا فشاري میکردند در مقابل هیئت امارت اسلامي به حل عمومي همه قضایا به سطح کشور توجه خویش را مبذول داشته و تلاش ورزید تا هر چه زود تر حتي در ظرف یك هفته کمیسیون علما دایر و همه مشکلات بصورت اساسي و دایمي در پرتو شریعت غراي محمدي«ص» حل و فصل شود اما نتیجه این شد که نماینده گان مخالفین منافع گروهي خود را بر رفاه و آسایش همه ملت مجاهد ما ترجیح داده و تا اخیر از تاکید شان بر سر موضوع مورد نظر شان دست نه کشیدند و بالاخره چون دریافتند که جانب امارت اسلامي افغانستان هویت آنها را خوب شناخته ، از عهد شکني متواتر چندین ساله شان معلومات داشته و هیچگاه به جز از حل شرعي، دایمي و بنیادي مسایل به چیز دیگري راضي نخواهد شد بناً از حضور در مذاکرات اجتناب ورزیده وراهخودرادر پیش‌گرفتند.

چون مشکلات طاقت فرسا و آلام بي حساب دامنگیر همه ملت مجاهد ما میباشد لازم نیست که یك منطقه و یا ولایت بر دیگران ترجیح داده شده و کسي به عنوان رفع مشکلات آنها مشکلات و بد روزي هاي همه ملت مجاهد ما را نادیده بگیرد باز هم امارت اسلامي افغانستان نسبت مسولیت و دلسوزي که در قبال ملت و مملکت عزیز خود دارد نمیخواهد تا حتي یك لحظه دیگر هم مردم ما از آتش جنگ و یا مشکلات گوناگون دیگر رنج برده و از امرار حیات مرفه محروم گردند بناً با وجود کناره گیري مخالفین از تداوم مذاکرات ، امارت اسلامي افغانستان باز هم با اخلاص کامل و نظر نیك به تلاش هاي خود جهت حل مشکلات و منازعات موجود ادامه خواهد داد .

د افغانستان د طالبانو په څېر د اسلامي انقلاب د راوستلو په تور

په بنګله دیش کي څلویښت تنه په عمري بند محکوم شول

(آي، کي اي)

د بنګله دیش یوي محکمي څلویښت تنو ته چي په بنګله دیش کي د افغانستان د طالبانو په شان د اسلامي انقلاب د راوستلو په تور تیـول شوي دي د عمري بند سزا ورکړیده، په دي کسانو تور لګیدلی وه چي په غیر قانوني توګه یه پوځي زده کړو بوخت وو خبر زیاتوي چي دغه څلویښت کسیز ګروپ د بنګله دیش په جنوب شرقي ځنګلوکي له اته ماشیندارو او نورو وسلو او باروتو سره نیول شوي وه ددي ولي یو تن محکمي ته ویلي چي دوي طالبان دي او په بنګله دیش کي د افغانستان د طالبانو په څېر اسلامي انقلاب راوستل غواړي. د بنګله دیش په تاریخ کي دا لمړي ځل دي چي یوه محکمه څلویښت تنو ته په یو ځل د عمري بند سزا ورکوي .

نوموړي کسان د بنګله دیش په یوي مدرسي کي په تعلیم بوخت وو او د حرکت جهاد اسلامي به نامه تنظیم غړیتوب لري چي د افغانستان د طالبانو حامي تنظیم دي .

د لغمان ولایت یو شمیر طالبان د باطل پر ضد د جګړي لومړیو کرښو ته روان شول

د لغمان ولایت یو شمیر محترم طالبان د محرم الحرام په اتمه نیټه په خپله خوښه د باطل پر خــلاف د حق د جګړي جبهوته روان شول.

د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راکړ د لغمان ولایت مجاهدین او درانه طالبان چيٰ په دي وروستیو وختو کي د محترم قوماندان عبدالحلیم تر قوماندي لاندي کابل ته راغلي و د دوشنبي په ورځ د باطل پر خــلاف د حق د جګړي جبهو ته روان شول.

... دغو مجاهدینو او طالبانو ژمنه وکړه چي د اسلامي نظام د واکمني د ټینګښت او د اسلامي نـــظام د دښمنانو د پوپناه کولو په خاطر به د خپل ژوندانه تر وروستي سلګي پوري کار او مبارزه وکړي.

یادونه

ښـایي ستاسو ایمان به اجازه درنکړي چي دا ډول سپېڅلي پاڼي په ناوړو ځایونو کښي وغورځوي.

د ګډون بیه له هیواد نه بهر

ملك	شپږ	کلني
پاکستان	RS200	RS400
دخلیج هیوادونه	SR.150	SR.300
اروپا او امریکا	US$75	US$150

SHARIAT WEEKLY
Published by :
Islamic Movement of Taliban - Afghanistan
Chief Editor: Mawlavi Abdul Rahman Ahmad Hotaki,
Editor: Mula Asadullah Hanifi,
Peshawar ,Tel # : 844331-818157-815627
Fax: 816088 Peshawar
Account No : 71-8 Allied Bank of Pakistan LTD
Shopping Plaza KarKhano Peshawar
Printed by: Dawlati Printing Press